


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# استاد سرفراز « مومند »

د نشرنيټه : 25 فبروري 2025 ميلادی

# د استاد سعيد افغاني څخه يوه خاطره!

د فبروری ۲۵ نيټه د استاد سعيد افغاني د وفات کليزه ده ، دا شخصيت چې د ژوند ډېر برخه يی د علم او معرفت په دايره کې تيره کړې ده ؛ کله زده کونکئ او کله ښونکئ ؤ . تحصيلات يی په عربي دارالعلوم او د مصر په جامع الازهر کې « د فلسفې او الاهياتو » څانګه کې کړيدي ، يو اجتماعي ، خير خواه او مهربان شخصيت ؤ.

سعيد افغاني د خپل وخت په سياسي ګوندونوکې غړيتوب نه درلود ، خو د وطن د مصالحو سره بيطرفه نه ، د وطن او خلکو د پاره يی شخصي هلی ځلی کولې ، زحمتکش ، با تحمله او د حق ملګری استاد ؤ ، چې د نوموړي د اثارو څخه تر اوسه پوری وطنوال استفاده کوي.

زه غواړم د دغه منلي استاد د صنفي مبارزاتو په لړ کې يوه په زړه پورې خاطره پدئ څو کرښو کی ګرانو لوستونکو ته وړاندې کړم . زه پدی لنډ ليکنه کې نه غواړم د استادانو د اتحاديې په باره کې ډير څه وليکم بلکه غواړم د استاد سعيد افغاني مدبرانه نقش او شخصيت په باره چی په خپل وخت کې د استادانو په اتحاديه کې لو بولی ؤ ، تقديم کړم.

په د غه وخت کې د افغانستان د پوهنتونونو قانون خپور شوې ؤ ، چی د محصلينو او استادانو د جدي غبر ګون سره مخامخ شو . په« ۱۳۵۰ کال » کی د محصلينو اتحاديه جوړ شوي وه ، ويل کيدل چی نومړی قانون غير ديموکراتيک دې ، د استادانو او محصلينو حقوق پکې پوره په نظر کی ندی نيول شوې نو د استادانو د اتحاديی جوړيدل په همدغه وخت کی يو مبرم ضرورت ګڼل کيده تر څوچې د محصلينو د اتحاديی په څنګ کی د استادانو اتحاديه هم جوړه شی او د استادانو د ديموکراتيکو او صنفي غوښتنو د پاره مبارزه وکړي.

پدغه وخت کی کابل پوهنتون د سیاسي مبارزاتو ډګر ؤ ، د ټولو سیاسي جریانونو نمایندګان په پوهنتون کی محسوس ؤ ، د افغانستان د خلکو دیموکراتیک ګوند دوه برخی « خلق او پرچم » ، د ماپوستانو ګوند « شعله جاوید » ، افغان ملت ، صدای عوام او جوانان مسلمان فعالیت درلود . هر ګوند به په مختلفو مواردوکی ځانګړې غونډې او تظاهرات تنظیمول خو په تاسف د دغه ډلو اکثر انرژي د یو بل په تخریب مصرف کیده او پدغه اساس همیشه صنفي هدفونه د سیاسي مرضونو قرباني کیدل ، دوخت دولت به د دی تضادونو څخه استفاده کوله او صنفي مبارزو به مطلوبه نتیجه نه ورکوله .

ښه مي په یاد دي چي دغه وضع د استادانو د اتحادیئ په جوړولوکي هم مسلطه وه ، هری ډلي غوښتل چي اتحادیی ته یی غړي انتخاب شي چي د ضرورت په وخت کی دغه صنفي اتحادیه د خپل سیاسي غرضونو د پاره استعماله کړي .

جلسي روانط وې ، تضادونه عمیق کیدل او بالاخره یوه جلسه دومره هیجاني شوه چي نژدې وه چي د استادانو اتحادیه چي د استادانو د صنفي ګټو یوا ځنی ربښتني مدافع وه جوړه نشي او غونډه رنګه شي او دغه کلاس حق او دیموکراتیک غوښتنه په ځای پاتي شي.
درست په دغه لحظه کي استاد سعید افغاني چي د پولیتخنیک د بی طرفه استادانو څخه ؤ او د پوهنتون اکثره استادانو کی د ټاکلی احترام څخه بر خورداره ؤ ، یوه ثابته بیانه ایراده کړه ، استادان یی اتحاد او اتفاق ته را وبلل ، صنفي هدفونه او سیاسي هدفونه یی لنډ توضیح کړل ، هیله یی وکړه چي صنفي غوښتني د سیاسي غوښتنو څخه بیلی کړي ، استادان یی په ډیر ارام او متانت سره دغه عظیم مسوولیت ته متوجه کړل چي که دا اتحادیه جوړه نشي نو یوه نه بخښونکي تاریخي اشتباه به مو کړې وي او راتلونکي به په مونږ لعنت وایي .

پرلپسي چکچکو د غونډې سکوت مات کړ ، دغه بیانیئ په ټولو استادانو ښه تاثیر و کړ ، جلسي دوام وکړ او په نتیجه کي په یو تا کلی پروګرام د اتحادیي انتخابات وشول ، اتحادیه جوړه شو ، چي دارلانشایي پدی ډول و ټاکل شوه .

۱- استاد فضل الربي « پژواک » د اتحادیي د ریس په تو ګه.
۲- استاد سعید افغاني د اتحادیي د معاون په تو ګه .
۳- سرفراز« مومند » د اتحادیي د منشي په تو ګه .
۴- داکتر پشتونیار « د ننګرهار پوهنتون څخه» د اتحادیي د منشي په تو ګه.

د دی نه وروسته زما د استاد سعید افغاني سره د استادانو د اتحادې په اساس روابط پیدا شول ، ډیر وخت به مو د اتحادي په باره کی او د استادانو د صنفي غوښتونو په ارتباط خبری کولې ، ما د هغه د خبرونه استفاده کوله او زیات احترام می ورته پیدا شو.

روح دي ښاد وي

سرفراز « مومند »

د کابل پوهنتون ، د ادبیاتو پوهنځي پخوانی استاد